مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر

۲۰۲۱/۰۱/۰۷

# رڼا

که تیاره ده په وطن کې ته رڼا پکې پیدا کړه
که هر خوا ویر او ژړا ده ته خندا پکې پیدا کړه

عبث وینې دي تویېږي افتخار یې دی په څه کې
ته یو ځاځکی زموږ د هیلو د رڼا پکې پیدا کړه

ستا تصویر مې په زړه کښلی د ښکلا اثر یې وینم
ملا وایي ولې ولې اوس نو ساه پکې پیدا کړه

مودې وشوې زړه مې مړ دی، چې مې ته نه یې لیدلې
یو وار راشه ځوانیمرګې لږ درزا پکې پیدا کړه

شعر د زړه په وینو لیکم ایله پوره شي پنځه بیته
نقاد وایي ډیر بد نه دی لږ ښکلا پکې پیدا کړه

علم گل سحر
۱۳۹۱/ ۲/ ۲۲
کابل- تایمني واټ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ